دا د کوم ظالم له لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي

# دا غلي زړونه

شعري ټولګه

Ketabton.com

سمیع الدین افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : داغلي زړونه

ليکنه : سميع الدين افغاني

د چاپ کال : ۱۳۵۹ ه ش ۲۰۱۱ م

خپرندوی: افغان ننګ ويب پاڼه

کمپوز او ډيزاين: اجمل اکبري

د چاپ ځاي: د حق د لارې کلتوري ټولنه

E-Mail :s-afghani@hotmail.de

د افغان ننګ د ښکلې پاڼې د قدر وړ کارکونکو په خاصه توګه د اجمل اکبري صيب نه
د کتاب د خپرولو او ډيزاين نه يوه نړۍ مننه ، کور مو ودان٠

سميع الدين افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپلې خبرې

پـــه وطـــن موجوړماتم دی      تـورتمونو کې مو شپې دي
دا د کـــوم ظـــــالم له لاسه      چې ظلونو کې مو شپې دي

محترمو لوستونکو !
که دنړۍ تاریخ ته ځیر شو ، یو شمیر شتمنو هیوادونو ددې پر ځای چې دبشر او انسا نیت د خیر او فلاح لپاره کوشش او هاند کړای وای او انساني ټولنه یې د فقر ، بدبختۍ ،وحشت ، اوبې عدالتي څخه ژغورلې وای برعکس دې هیوادونو دخپلو مادي او معنوي ګټو د خـوندي کولو په مقصد د میلنونو انسانانو ژوند د مرګ ژوبلې او بدبختۍ سره مخامخ کړ ی او پدې ترتیب یې په مستقیم یا سیاسي ډول نور هیوادونه تر خپل ولکې لاندې راوستلي او دهغوملکونو دارایي یې غصب او وګړي یې خپل غلامان ګرزولي دی٠

زموږ ګران هیواد افغانستان چې هم د تاریخ په اوږدو کې دداسې شومو اهدافو قرباني ګرځیدلی دی ،د کلونو کلونو راهیسې یې زموږ خلک دنابــودۍ کندې ته غورزولي او زموږ هیوادوالو د خپل دنجات او انساني ژونداو تاریخ دبقا پـــه هیله د پردیـو زورواکانوسره لاس او ګریبان او د خپلې خاورې څخه په میړا نې دفاع او ساتنه کړې ده٠

نن سبا کومه جګړه چې زموږ په خلکوتحمیل شوې ده زموږ ډیر بې ګناه هیواد وال یې د مرګ او بدبختیو سره مخ کړي او که د هیواد هر وګـړي د ژوند تاریخ وسپړل شي ،درد ، غم او مشکلاتو څخه بغیر هیڅکله هم د یــو ارام او متمئن ژوند څخه نــدي بهرمند شوي او زړونه یې د داسې ناکردو څخه همیش دردولي اوداغلي دي٠

داغلي زړونه زما دغه شعري ټولګه هم زموږ د هیوادوالو د داغلي زړونو، هیلو او ارمانونو یوه وړه شانې بیلګه ده چې د ادب مینه والواو درنو لوستونکوته یې په درنښت وړ اندیې کوم هیله مند یم چې ددوستانو دپا ملرنې وړوګرځي٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید یادونه وکړم چې پدغې شعري ټولګې دهیواد نامتو علمي شخصیت ښاغلي څېړندوی حبیب الله رفیع صیب پیزوینه کړې او یوه ښکلې سریزه یې پرې لیکلې ده چې درفیع صیب څخه د زړه د کومې مننه کوم چې د ډیرو بوختیاوو تر څنګ یې ددې ټولګې په اړه خپل نظر څرګند کړی دی.

ښاغلی څېړندوی حبیب الله رفیع صیب ته د اوږد ژوند او دښه صحت هیله دلوی خدای ددربار څخه کوم.

همدارنګه پدغې شعري ټولګې پیژندل شوې لیکوالې او شاعرې ،اغلې زرلښت حفیظ چې زموږ د هیواد د ښځود نهضت یوه با توره او پــه هیواد مینه شاعره اولیکواله ده یوه ښکلې سریــزه لیکلې چې دمننې تر څنګ هغې تــه زموږ د هیواد د ښځو د نهضت د بــوې فعالې مبارزې، لیکوالې او شاعرې په توګه د لابریاوو هیله کوم.

په پای کې لازمه ګڼم د هغه دوستانو څخه چې ددغې شعري ټولګې په راټولولو ،ډیزاین او چاپ کې له ما سره مرسته کړې هم مننه او یادونه وکړم. د دوستانو د رغنده نظریو او وړاندیزونو په هیله .

په ډیره مینه
سمیع الدین افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

دا عادت دی چې له درده زګیروي خېژي

ګنه څه وو د رحمان له شاعرۍ

"رحمان بابا"

ښاغلی سمیع الدین افغاني همدا سې دردېدلی او ځورېدلی افغان دی چې د ده د نوې ځوانۍ په تاند پسرلي کې د ده هیواد د پردیو د ګولیو د ږلیو ښکار شو او د ده آرام او د بشپړ امنیت په غېږه کې او سېدلی ملت د نا آرامۍ او جګړو غېږې ته ولوېد او راز – راز بدبختیو او بد مرغیو دې هیواد او دې ملت ته خولې خلاصې کړې.

د همدې تودو جګړو پر وخت دی د لوړو زده کړو لپاره له هېواده بهر لاړ، په دې هیله چې مسلکي زده کړې وکړي او بیا د هیواد د آرامۍ او د خپل اولس د هوسایۍ په لاره کې خدمت وکړي خو چې بېرته راستون شو جګړې نورې هم خونړۍ شوې او د هیواد نا آرامۍ نورې هم زیاتې شوې وې.

افغاني دراک، حساس او دردمند افغانۀ دې ټولو پېښو یې په زړه او ضمیر، په وجدان او احساس ژور اغېز کاوه او د ده دردونه یې زیاتول تر دې چې د دې پېښو توپاني سیلاب دی هم ورسره واخیست او د مهاجرت په بې سره او بې لوري کاروان کې یې المان ته ورساوه.

د هیواد او د ده د ملي ژوند دا ټول دردونه ډېر درانه شول، د ده په حساس احساس یې فشار راوړ، له زغمه یې ووتل، زګیروي شول او دا زګیروي یې د شعر په بڼه له خولې راووتل او په دې ترتیب یې د دردمن او ویرمن شعر لړۍ راپیل شوه.

ښاغلي سمیع الدین افغاني د خپل ژوند هرې خوا ته متوجه شو او د هیواد د دردونو او غمونو په هره برخه یې رڼا واچوله او په شعر کې یې انځور کړې. ده د خپلې طبعې څپانده شعري چینه همدا سې طبیعي وساتله او له دې چینې نه لاس ته راغلې شعري څاڅکي یې په همهغه بڼه د کاغذ مخ ته ورسول او خپل شعرونه یې بې ساخته باخته په ببلا ببلو ټولګو کې تنظیم کړل او موږ ته یې راورسول.

د ده شعرونه د ده دردمنو هېوادوالو په مینه واوریدل او افغاني هنرمندانو د ساز له څپو سره مله کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغاني صاحب په شعرونو کې له اجتماعي دردونو سره – سره د مينې سويې نغمې هم شته او د سوي هيواد رنګين يادونه هم او له دې سره د ده په شاعرۍ کې د ادبي رنګينيو پر ځای د هدف بيانولو ته زياته توجه شوې او د خپل زړه رازونه يې د رمزونو له پوښ نه بهر په صراحت او څرګندو لفظونو بيان کړي دي. ښاغلی افغاني له هيواده ليرې خو د هيواد يادونو له هيواد سره نژدې ساتلی او د هغه ظالمانو په لټه دی چې زموږ پر وطن يې ماتم راوستی دی:

په وطن موجوړ ماتم دی

تورتمونو کې مو شپې دي

دا د کوم ظالم له لاسه

چې ظلمونو کې مو شپې دي

***

ګران وطن راته سور اور شو

د دوزخ لمبې ترې خېژي

بل محشر ته حاجت نشته

قيامتونو کې مو شپې دي

دا د کوم ظالم له لاسه

چې ظلمونو کې مو شپې دي

***

له دې سره زه خپلې خبرې رانغاړم، افغاني صاحب ته د ژوند کاميابۍ او کامرانۍ غواړم.

په درنښت

څېړندوی حبيب الله رفيع

کابل، درېم پروان

۱۳۹۰/۲/۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داغلي زړونه

درنو او محترمو لوستونکو !
ښاغلی سمیع الدین افغاني په وطن مین د سولې ،صمیمیت ، پرګنو او د حالاتو ترجمان د هیواد هغه پیژندل شوی شاعر او لیکوال دی چې شعرونه یې د هیواد د خوږ ژبو هنرمندانو له ژبې څخه نیولی بیا د ښارنو ، کلیو بانډو او سیدنکو ، ځوانــانو او ماشومانو له ژبونه هم د سندرو په بڼه اوریدل کیږي.

ښاغلی سمیع الدین افغاني د هیواد نه لری د پردیسی شپې سباکوي هغه نه یوازې یو ولسي شاعر دی بلکې ښه نثر لیکونکی هم دی.

داغلي زړونه » د افغاني صیب هغه نوې شعري ټولګه ده چې د درد یدلو زړونو هیلی او خبري په » کې انځور او راټولې شوی ،دغه شعري ټولګه که له یوې خوا خلک د هیواد پالنې روحي ته رابولي د بلې خوا د هغه د ترخــو حقایقو څخه پـرده پــورتــه کوي چې د جنګ پــه دریوو لسیزو کې هیواد وال ځنګه او ولې د دې غمیزو ښکار ګــرزیدلي دي.
دا لیکنه او مجموعه د جنګ د ترخـــو حقایقو تـــرڅنګ د یـــوې خوږې کلیوالي مینې هنداره هم ده چې د شاعر د زړه اواز ، رازونه ،سوزونه ،حقایق،دټولنې او خلکو فلکوریک ژوند د حکایتونو بیلګې په کې په ستر ګو کوي.

په دغه شعري ټولګه کې شاعر یو خوا ته د جنګ په غمیزو او بل خوا ته د یوې خوږې مینې خاطرې څخه پــرده پورته کــوي چې د شاعر د ژوند د مختلفو حالاتو تر تاثیر لاندی د مینې د ولولو نه ډک اشعار او غزلونه یې د هرمین زړه د مینې احساس راپاروي.
د شاعر په شعرونو کې د کلیوالي ماحول اثر او د افغان ګډوالو د پردیسی ژوند انځورونه او د خپل هیواد سره ژوره مینه ، د هیواد جګړه ایز ماحول او روانو حالاتو باندی کله په پسته او کله هم په ځیږه ژبه لیکنی د شاعر هنر بیانوي.
د افغاني صیب په شعرونــو کې هــم سوز شته او هم ساز کله چـــې د هغه حماسي او اجتماعی شعرونـــه ولولو نو شاعر پـــه هیواد کـــې د جنګ په غمیزو باندې ډیر غمجن ښکاري ،لکه د سنګر یو زړه ور سپاهي د ناخوالو په مقابل کې دریږي او د هیواد او الـــو دروا حقوقـــو څخه په میړانه دفاع کوي په دی توګه په ډیره زړورتیا د نـړۍ بشرپالو او خیرخواه انسانانو ته د نیو کې ګوته نیسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووايي:

دنـــــيا ته‌ـوله‌راته‌خاندي
موږ په‌چيغو چـــيغو ژاړو
څه‌سپين سترګې دنياګۍ ده
سياستونو کې مو شپې دي
دا د کــــوم ظالم لــه‌لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي

بل ځاى کې شاعر بيا دخپل دژوند دخاطراتو څخه‌ديوې خوږې مينې لحظى لکه‌هنداره‌ترسترګو تيروي لکه‌دا خيالي نظم :

يـو ګلابــي رنـګين څپه
يـــوه‌شيبـه‌يــوه‌لــمحه
د ژوند يـوښکلې خـاطره
د خـــوږې مينــې تــرانــه

هــغه‌د يــار خواږه‌کتــل
په‌ګلابـــي شــونډو خندل
ســره‌اننګي چــپه‌کـاکل
هــغه‌سئتونــه‌يـــارانــه

دشاعر په‌تخيل کې دهنر دګلبڼ نه‌ډيرښايسته‌ګلان ترسترګو کيږي ، شاعـرسره‌د هنرښاپيرۍ تــرډيره‌حــده‌برياليې سفرلري، دښاغلى افغاني په‌شاعري کې دهنردښکلاګانوډيرى بيلګې ليدل کيږي چې دپرديسي ژوندتيرى خاطرۍ اويادونه‌ورته‌يوپه‌يو په‌سترګه‌کوي، جلا وطن شاعر دزرهاوپرديسو افغانانو دخولې نه‌داسى ليکي:

مونږ ته‌مــــو خپـل دکلي لار يادېږي
ز مونږ سپرلي مـــــونږ ته‌بهار يادېږي

زه‌ خپله‌ليکنه‌د افغاني صيب په‌دا څلوريځه‌ختمومه‌چې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونـو تـــه لار لـــري د زړه خـــبرې
عــزت ، وقــار لـــرې د زړه خـــبرې
چې په رېښتيا سره ژونـــدن تيروي
لــوړ اعتـــبار لـــري د زړه خـــبرې

زه پدې باورم يمه چې دا شعرونه به ډيرو زړونو ته لار پيدا کړي په همدې هيله تاسي را بولمه د دغې ښکلې شعـري ټولګې لوستلو ته، د افغاني صيب د لابرياوو په هيله٠

د خوږولې په مينه
زرلښته حفيظ بشريار-کانادا
٢٠١١ - ٢ - ١۴ م.کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه دویم یم

پر کتابونو سریزې مقدمې او تبصرې یو وخت زیات مود وو هر شاعر او لیکوال به کوشش کوه چې پر خپلو اثا رو دلویو لیکوالو او پو هانو نظرونه ولري کله کله به داسې هم کېدل چې لیکوال ددغو مقدمو او سریزو له کبله خپلو اثارو ته پر خورا مهمه ستر ګه کتل معمولا مقدمه به داسې وه چې پر هغې کې به دیوه ادبي اثر لنډیز وړاندې کېده او لوستونکي ژر داثر پر منځ پانګه پو هیدلو.کله چې پر کابل کې د شپږمې لسیزې اثار ګورونو پر هر یوه ادبي اثر ډېرو لیکوالو او پوهانو سریزې خپرې شوې دي دا یو ډول مود وو هر لیکوال کوشش کولو چې پر خپلو اثارو ډېر پوهانو سریزې ولري کله چې ددغو اثارو سریزې لولو نو له ورایه راته دغه څو نیمګړتیاوې پر ذهن کې تداعي کیږي.

۱: اکثر تبصرې تکراري او بې خونده دي.

۲: د کره کتنې ځرک په کې نه لیدل کیږي.

۳: له بې ځایه توصیف نه ډکې دي.

۴: تکراري موضوعګانې په کې ډېرې تکرار شوې دي.

که داسې ددغو سریزو جاج واخلو بې له شکه ډېر اضافي او بې ګټې یې بللې شوپلانې ډېر ښه شاعر دی دا او هغه شعري جونګ له انځورونو او ابتکارونو نه ډک دی زه یې خپریدل ګټور بولم او داسې ډېرتکراري مفاهم او بې ضرورته توصیفونه په کې بیان شوي دي.

بل ټکی دادی چې اوس سریزې دومره مود نه دي ولې جواب روښانه دی ځکه چې داوس وخت لوستونکي ددې وخت نه لري چې له کتاب دمخه دې هغه څو مخیزه مقدمه ولولي.او هغه هم دلیکوال صفتونه او یا هم رښتیا نه ویل.زه به هم دخپلو استادانو پر زاړه دود اقتفا وکړم او توکل پر خدای چې څه کیږي.

داغلي زړونه دښه شاعر او لیکوال ښاغلي سمیع الدین افغاني شعري جونګ دی او له مانه یې پر دغه اثر دسریزې غوښتنه کړې ده دا چې زه ورته چا پر ګوته کړې یم غاړه دهغو بنده خو زه به کوشش وکړم چې دلیکوال غوښتنې ته یو نیم ګړی ځواب ووایم.

ما خپله سریزه پر دې پیل کړې ده چې زه دوهم یم ددې مطلب دادی چې له ما نه مخکې دافغاني صا حب پر دغه اثر خوږې خور او خوږ ژبې شاعري زرلښت حفیظ یو اوږده او تفصیلي سریزه کښلې ده ما چې کله دهغې لیکنه ولوستله نو را په زړه شول چې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما چې څه ویلی هغه تاوویل
نور دویلو هیڅ حاجت نه شته

د زړلښت حفیظ له مقدمې وروسته به زما خبرې دومره پر زړه پورې نه وي خو زه به خپل کوشش وکړم چې پر ډېر لنډېز سره ددې کتاب په هکله لږ یا ډېر څه ووایم.

افغاني صاحب وایي:

دانا دوست به تل ښېګڼې درته ښایي
نادان دوست به دې اخته کړي په جنجال
افغاني ددوست په نقد کې خفه نه دی
خو ځوریږي تل دزړونو په ملال

زما په اند افغاني صیب دیو ښه شاعر نه پرته خورا ښه طرز یا تصنیف جوړونکې دی او دادده د شاعرۍ یو لوی کمال دی ځنې طرزونه او سندرې خو یې ډېر ژر داورېدونکو زړونو ته لار پیدا کړې دهر چاپ پر ژبه دي او دی دده شهرت هم زیات کړی دی که دکمیت او کیفیت له پلوه یا دپوهاند صاحب زیار پر وینا جوله)شکل ( منځ پانګه)محتوا (له پلوه دافغاني صاحب دغه شعري جونګ ګورو نو هغه دبنجاره کځوړې ته ورته ده چې هر څه په کې موندلی شو ځلریزې ، نظمونه، لنډۍ، متلونه غزلې رباعي بګټي او د شعر هر قالب په کې موندلی شو.

زما پر اند افغاني صاحب یو ډېر ښه اولسي شاعر او پر دې برخه کې یې دخپل وخت له ډېرو همزولو مخکې اوږده مزلونه وهلي دي که دده دغه هڅې همداسې جاري وي نو لرې نه ده چې هغه له دې نه هم ډېر ښه او زړه وړنکې اثار خپلې خوارې او ملنګې ژبې ته وړاندې کړي، زه ده ته اوږد عمراو د ادب پر میدان کې له دې نه هم دښو اثارو دلیکلو دعاکوم. اوس همدومره.

پر شاعرانه مینه
افضل ټکور ددوه زره یولسم کال دمې پنځمه لندن

## د وطن پــه یاد

پــه وطــن موجوړماتم دی
تــورتمونو کې مو شپې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د کــوم ظـــالم له لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
ګــران وطن راته سور اور شو
دوزخ لمبې تـــري خـــېژي
بــل محشر ته حاجت نه شته
قیامتونو کې مو شپې دي
دا د کــــوم ظالم له لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
د کـــابــل هـــره کــوڅه مو
ښکلي ښکلي خـــاطرې دي
اوس یې وران او ویجاړ ګورم
ګـــړنګونو کې مـــو شپې دي
دا د کــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
زوړ او ځوان مو شهیدان شول
څوک بې پلاره څوک بې موره
د چا کور جوړ قـــبرستان شو
زیــــارتونو کې مو شپې دي
دا د کــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
افغانان ټول تار او مار شول
څوک په کوزا وڅوک په بردي
په وطن کې چې او ســـــیږي
ماتمونو کې یې شپې دي
دا د کــــوم ظالم لـــه لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
د اسلام پـــه تـــمه تـــمه
د کـــــافرو کانـي وشـــوې
هـــــيڅ تميزکـولای نه شو
په چـرتونو کې مو شپې دي

دا د کـــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
دنـــــيا تـوله راته خاندي
مور په چيغو چــــيغو ژاړو
څه سپين سترګې دنياګۍ ده
سيا ستونو کې مو شپې دي
دا د کـــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***
افـــغانی وطن به جوړ شي
که د خدای مــــــهربانـي وه
د پـــردو لاس بــــه لنډ يږي
امــــيدونو کې مو شپې دي
دا د کـــــوم ظالم لـــه لاسه
چې ظلمونو کې مو شپې دي
*** ***

ددې شعر يوه برخه د وطن تکړه او خوږ ژبي هنرمند ښاغلي صديق شباب پـــه خوږ اواز او تـــرنم کې کمپوز ، کليپ او د هيواد والو د توجه وړ ګرځيدلی ده ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پرېږده پرېږده ای مرګیه

لـــږ د مه شــه ای زړګیــه
زه لا نور ځـه کـول غواړم

لږ مــې پــرېږده ای مرګیه
د ایمان آزمــویل غواړم

چې منبر مــې چـا سیزلی
د هـغو پــر ځــول غــواړم

زمـا ورور یـې چې وژولـی
ترې ګریوان څیرول غواړم

بـبر سری مــاشومــان مې
له بــمــو بــچــول غــواړم

چې ترې والوزی کــوترې
د پنجـرو مــاتول غــواړم

لا نیمګړی مــی آرمان دی
خپـل آرمان ته ور تلل غواړم

دا چې کور په کور روان دی
دا ماتم ختمول غواړم

نــا امید داغلــي زړونــه
په لیمو ښکولول غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کشتی پـه ډوبیـدو ده
تر تـوفـان تـیریدل غواړم

ربـه داسې طـاقت راکړی
د ولس پـاخـول غـواړم

چې موږ تول سره یوځای کړي
پـوه رهـبر درول غـواړم

پریږده پریږده ای مرګیه
زه جانان تـه ورتلل غواړم

یو پاځون یـو انقلاب تـه
لـراوبـریـو کـول غواړم

یا به دا ارمـان پـوره کړم
یا کـفن ځیـرول غـواړم

بیا نو هـله پـه مـزار مې
سـرې جنډې رپـول غواړم

---------------------------

۱۱ ـ ۱۱ ـ ۲۰۱۰ م۰ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زمونږ د کلي هغه کور

زمـــونږ د کلي هغه کور
هغه ختين ديوال کې لور
هـــا نغرى د لرګـــو اور
چا رانه واخسته په زور ؟
د کور په مينځ کې وه بياله
هـــا د انګـــورو ښه چيله
پکې يو ښکلې شان حجره
اوس بې احتياج کړلو دنور
چـــا رانه واخسته په زور؟
ښکلې باغچــه دميلمنو
دڅـــنه ورو شـــا ځلمو
وه د خوښۍ او بدو شپو
اوس راته پاته دى پيغور
چـــا رانه واخسته په زور ؟
چا ترينه ويوړې دروازې
هم بې کړکۍ ماتې ښيښې
نـــې د تنور خـــيژې لمبې
اوس لوټې لوټې دى نسکور
چـــا رانه واخسته په زور ؟
يمه مـــحتاج د بل وطن
نه مې شته کورنه مې مدفن
وي بـــه د هجـــرځانکندن
مات زړونه څنګه شي ټکور
چـــا رانه واخسته په زور ؟
ربـــه مونږ ستا يو بنده ګان
له تـــانه غواړو مونږ امان

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو زوريدلـــي په بد شان
كه ته زموږه شـــي غمخور
چـــا رانه واخسته په زور ؟
چـــې ګران وطن موشي اباد
دغــه غمجن زړونه شي ښاد
دســـره جـــوړ شي دا بنياد
افغاني بيا شـــو كـــلى كور
چـــا رانه واخسته په زور ؟
*********
۲۰۰۹ - ۱۲ - ۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وختونه

یو ګلابي رنګین ځپه
یوه شیبه یوه لمحه
د ژوند یو ښکلې خاطره
د خوږې مینې ترانه

راته په زړه شوې سلسلې
ها دیادونو ښې شیبې
ستا د وصال ډکې پیالې
ښکلې ساقي او پیمانه

هغه د یار خواږه کتل
په ګلابي شونډو خندل
سره اننګي چپه کاکل
هغه سئتونه یارانه

هغه سپرلی ښایسته ګلان
هغه شنیلی ، غراو دامان
زیړ مازیګر ښکلی جانان
بې میو مست وم دیوانه

ژوند کې خوږې شته هم ترخې
داژوند رڼا لري هم شپې
کله خوښي کله ګیلې
کله وختونه جانانه

داژوند تیریږي هم ایام

(c) ketabton.com: The Digital Library

خــوږوې دمينې خوږ انجام
ښې خاطرې دخــوږ ګل فام
خــوږه د ميــنـــې افسانه

اوس نـه دلـدارشته نه دلبر
نه بې منګى شـته نـه ګدر
لکــه د ژمــې مــازديــګر
هســې تيــريــږې زمـانـه

*********
۲۰۱۰ - ۴ - ۲۰ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي خائن ته

بل مـــې وژنـــې او تــه ګوري
څه عجیبه شـــانته ورور یې

د وطن په غیرې کـــې لوی شوې
ورتـــه وا یـــې سپکې سپورې

د پـــــردوســره دې راز دی
خوحـــاکم زمـاد کـــوربـــې

خــورې وطن دې په بل خرڅ کړ
تش په خوله وا یې چې ورور یې

چې یووالـــي تـه دې بـــولي
جـوړوې بـــانې څـــه نـوري

دا وطـــن د هـــر افـغـان دی
ته شمـــلې پـه سپکه ګورې

تاریخونـه یـــې ژونـدي دي
دا چنـــګیز او مغـــل ګـوري
قدرتـــونـــه پـه ګـونډو شول
سورلښـــکر اوپرنګ پورې

خـو یـــوه خـــبـره واوره
که هرڅه پـه زړه کې تور یې

چې تیـارو ریسې رڼا شته
بیا په کومو ستر ګو ګورې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن يــو والی ضــرورت دی
که اصيل بـچــې د مــورې

د ملــی ګټو پاس بــان شه
که په هر تنظيم کې جوړ ې

نور د جنــګ لمن کړه ټوله
که خلاف د ظــلم او زور ې

افغاني احساس اشنــا کړه
چــې د هــر زخــم ټکــوريې
کال ۲۰۱۰ - ۳ - ۲۴ م

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اجمل بابا د مړينې په مناسبت

ژوند تيـريږي تمئی نشتـــــه د هيڅا
افتخار شې چې رښتينی شي پيشوا
پښتنو کې شاعران هم ليکوالان شته
خو بيا څوک پکې رهبر شي هم پيشوا
نن په سوګ کې د اجمل بابا ماتم دي
پرې خـفه دي ريښتين زړونه د دنيا
پښتنو په لراو بر مرګی مرګي دي
نن اجمل خټک پـريږدي فاني دنيا
چې بې عمرټول تيريږي په خدمت کې
دوعا ګوی شي هـــم د زوړ هم د برنا
رب دې ستا د خدمتونو اجر درکړي
جنتي شه دا سې ځــوی د پښتونخوا
کورنی ته بې تســل د خــدا يه غــواړو
خـدمتګار وه افتخار دي هـــم بابا

*********

فيبرال ۲۰۱۰ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي اټک یوسفزي د )کرجي بابا ( د لیکنې پر بنیا د

## جنتي خوب

ماویل جنــت مو د پښــتو ډک شو
په خــوړو ژبــو پښتنــو ډک شو

ځای د پښود ایښــودوکــم دی
په احــمــد زو او درانو ډک شو

هلته ځاځي او هم ساپي وینمه
د پوپل زو او نورزیو ډک شو

دلته مسود او ابــدالي قــامونه
په میرېنــیو یوســف زو ډک شو

ګوري چې ټول کړي په پښتو خبرې
د پښتونــخوا پــه پښتنو ډک شو

دا دی سیــد عبدالخالــق وګوره
پــه ماشومانــو او زړو ډک شــو

کوچني ماشوم مې غوږکې وروو ویل
زموږ د کلي پــه ځلمــو ډک شو

ویل چې کرجي بابا دلې واستول
زموږ په خوا خوږو او پلرو ډک شو

ماشوم کرجي کرجي نارې وهلې
ویل د کرجي بابا د کــړو ډک شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ها د شين ډنډ جنتيان هم دلې دي
ويل د حــاکم په فــرمانو ډک شو

ماشوم لــوى ورته اشاره وکړله
ويل انتظار د لوی صفو ډک شو

شاوليکوټ پښتانه هم رادرومي
هــغو بــې وسو په بچو ډک شو

دا د فــراه او د شينډنډ ځامن دي
دا د هــغو کلــو بانــډو ډک شــو

ماته شهـــيدې پښتــنې وويلې
دزور واکانو په ظلمو ډک شول

ما ويل چې زه هم جنتي شوم ربه
څه د ځــان مــرګو په حملو ډک شو

ډيربيا چارو اکو په عــزت ليــږلي
څــه يې پــه مکر او پلــمو ډک شو

پېغلې شــهيدې راته داسې ويل
زما د واده پـــه ميــلمنو ډک شو

دا رنګينه جامــې مې نــه ګورې ته
زما دخاوند په وينو سرو ډک شو

ناڅــاپه غږ اوغړمبهار شو پورته
کــور دهنــدارو او ګــردو ډک شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورم چې لرې د خپل ځایه پروت وم
زړه نا امیده له سلګو ډک شو

ما مې د کور خلکو ته غږ پورته کړ
غږ مې د زړه په لړزیدو ډک شو

زمونږه لوی اوسندریزه کلی
اوس په نارو او په سورو ډک شو


زما حواس ټول پریشان ښکاریده
چې ټول بدن مې د خولو ډک شو

اوس هم هغه وحشي غږونه اورم
کلی مو ټول له تور لوګو ډک شو

ربه په مونږ څه حالتونه دي نن
زمونږ وطن په ادیرو ډک شو

*********

۵ - ۳ - ۲۰۱۰ م کال-جرمني



(c) ketabton.com: The Digital Library

# تا به دلدار کړم

مــــازیګر دی زیړی لــمر دی
خـــوږ اشنـــا می مرور دی
شینکی خـــال په تندي ږدمه
خپـل اشنـــا خوشحـــالومه

وریــځی وریــځی باران اوري
خوږ اشنـــــا په بلی ښوري
د اشنـــــا دیدن ته ځمـــــه
د باران کلـــــه منمـــــه

اوږدې لارې دي سینـــــدونه
پراته مخـــــکې ګړنګـــــونه
غره پـــه سر کېږدی وهمـــــه
اشنا ځـــــان له ستنومـــه

خوږ اشنـــا مې مساپر شـــو
لاړ ځمـــــا نه مرور شـــو
سپینه خـــــوله ورته ساتمـه
اشنا ځان لـــــه را بلمـــــه

په تندي دې شینکی خال دی
په یاری کې دې کمـــال دی
سترګې تورې په رنجـــو کړې
بیـا ګــذار په مئین زړو کړې

سترګې تورې په رنجـــو کړه
جوړ شرنګار دې د بنګړو کړه
خیال ګـــــودر ته د ورتلو که
شین منـــګی دې په اوږو که

افغـــــانی ستا خریدار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د بدي شيبــــــــويا ردى
سر او مال به درنه ځــار کړي
خوږ اشنـــــا تا به دلدارکړي



**********

۲۰۰ – ۷ - ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بدلون

هغه دنیـا ده نن بـې رنګ بدلیږي
اغیا رهغه دی نن بې ځنګ بدلیږي

دا کومې لوبې چه پرون چلیدې
نن د هغه لــوبو نیرنګ بدلیږي

دا د شباب شانې ظاهره ښکاري؟
که په رښتیا سره یې خوند بدلیږي؟

پرون چې خپلوکې وه لاس اوګریبان
د هغه خلــکو نن فرهنګ بدلیږي

ځای د ټوپــک که دقلم سره شي
زمونږه شاه زموږ ملنګ بدلیږي

د یو ارمان د یــو تغیر په هیله
په علم اوپوهې ځای د جنګ بدلیږي
*********
۷ - ۱۱ - ۲۰۰۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نيمګړې لار

مونږ ته مـــو خپـل د کلي لار ياديږي
ز مونږ سپرلي مـــونږ ته بهار ياديږي

مونږ دژوندن پـــــه اوږ دې لار ورتلو
خپل مستقبل تـــه امـيد وار ورتـلو

دامــــو ددیـــن او دائـــین لاره وه
دامــو دپـــوهــې او یـقیـــن لاره وه

مـونږ پدې لارکې خپل مقصد لورې تلو
مونږ خپل بري او خپل مطلب لورې تلو

ددغــې لارې د مـنـــزلـنـــو وروسته
بـیا د کلـــــونو کـړاونـــو وروسـتـــه

اوس هـــم منزل ته رسیـــدل ګران دي
په دې پـــیچومـــو ورختـــل ګران دي

ددغـــې لارې سرانـــجـــام نشـتـه
پکـې ښـاغلی اونیک نام نشتــــه

پـه پــردوسر پـــه بــل ګلـــــشن لاړو
د خپـــل مطـــلب ځينې پـه ځنـــګ لاړو

اوس یـــو مـحتاجـــــه دپـردو د وطن
یـونـــاعـــلاجـــــــه د مـیـــرو د وطن

دلـــته مو هـــــــم ز مونږ ارمـــان ژړوي
مونږ خپل مالت خپل ګلستـــان ژړوي

مـــونږ زحـــمتونـــــــه کـړاونـــه ګالو
مونږ په رښتیاتیـاره وخـتـــــونه ګالو

چې په وطن مـــــــولوی ناتار جوړ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحشـــي خـزان مـــو پـه ګلزار جوړ دی

مونږ خپـل وطن تـه د خـــدمت پـه هیلـه
مونږ د اباد کلـــي ، مالت پـه هیلــــه

اوس پـه همـــدې ارمـان سوچونه کوو
پـه خــپل تیر شوي ژوند فکرونه کوو

مونږ ویـل وطنـه چې اباد بـه دې کړو
غلیم بـه ورک کړو او بنیاد بـه دې کړو

چې مو پــدې دنـیا جنـت جـــوړ وای
خپلو پـلـرو تــه مـــــو عزت جوړ وای

کلـه بــــــه خپـل وطــن ابــاد ووینو ؟
د ولـــســونــو اتــحـــــاد ووینـــو

اوس ترې محـــروم یو هرڅه تباه دي
ټـــول زحمتـــونه او کــړه وړه تباه دي

که خـــداې مو بــیا پـه هغـه لار بوځي
پــه هـغـــه کلــې او ګلـزار بوځـــي

ربـــه مونږ ستا نــه تــل امـــا ن غواړو
د ښــه ژونــدون ســره ایمـــان غواړو

ته مو عـــزت تـــه مـو همت وســـاتې
ته مو غـیرت زمونــږه پـت وسـاتی

څه بـــې ګناه ډیـــر افغـــانان تباه شول
زمـــونږ زاړه زمـــونږ ځوانان تباه شول

لــه دغـــــه بنده مـــونږ ازاد کړې ربـه
د ولـــسو مـــو اتـحـــاد کــړې ربــه

تـــر څـــو د کلـــو پـــه لار بیا لاړ شو
د خـــپل ښاغـــلو پـه لار بیا لاړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغاني احساس وطن جوړ کړو
ها دخپل پلار نیکه مدفن جوړ کړو
*********

۲ - ۳ – ۲۰۱۰



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زړه خـــبرې

زړونــوتـــه لار لـــري د زړه خـــبرې
عـــزت ، وقـــار لـــرې د زړه خـــبرې

چـــې په رېښتا سره ژونـــدن تيروي
لـــوړ اعتـــبار لـــري د زړه خـــبرې

مينه ده ژوند دی او اخلاص دی پکې
د زړه قـــــرار لـــري د زړه خـــبـــرې

دوكــه يوځل وي نـــور بيا لار نلرې
عـــزت هـــربار لـــرې د زړه خـــبرې

تل دي رښتـيا تـــل دي پخې خبرې
ډيـــر طرفدار لـــري د زړه خـــبرې

افغاني ژوند په صداقت ښكلى شي
زرغـــون بهـــار لـــري د زړه خبرې
*********
۱ - ۲ - ۲۰۱۰

## د بزكشي لو به ) وزلوبه (

څه عجيبه ساعت تيري ده
بـــز كشي ده بـــزكشي ده

د حـــلال پـــه دايـــره كـــې
په همدی حساس موقعه كې
پروت و زګوړی طلا يې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

بز کشي ده بــزکشــي ده

د حــلال د دايــری نــه
را ټول شوی دی حلقی نه
ښی او چپ ډلو سيالي ده
بــز کشي ده بزکشي ده

وحشی لــوبه ده چــالانه
کشمکش له هری خوانه
چې د خان په اس ځوک ځغلی
د همــغو کاميابي ده
بز کشي ده بزکشي ده

ای ددی لوبی حاميانو
تنو مــندو بــزکشانو
د وزی پــه جګيدو مــو
کړه قبوله خود کشي ده
بز کشي ده بــزکشي ده

بز کشی ځــانلــه هنر دی
هرڅوک کله تری خبر دی
اوريــد لې بــه چــا نوی
د چهل دزدو فکاهي ده
بــز کشي ده بــزکشي ده

خلک حيرانــه او ابتر دی
د خپل ځــانه بــی خبر دی
که ځوک لږ پکی دخيل شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا نو سمدم بی ابي ده
بز کشي ده بزکشي ده

دا چې سیل یی بی پیسو دی
چانس د ځوان او د زړو دی
که جا هل پکې کامیاب شو
بیـــانو جــوړه خــرابــي ده
بــز کشي ده بــزکشي ده

اوس خو خلک دی خوشاله
د بــزکــشــو د کــمــالــه
چې سبا ته بــه څه کیږی
نا معلومه شــان بازي ده
بز کشي ده بــزکشي ده

دا یو نیـــم پکې مــکاردی
خدای وهلی بی روزګاردی
وی چې ځان پکی شریک کړه
د وزلوبی سات تیري ده
بــز کشي ده بــزکشي ده

یــوه ډلــه ده کــاذبــه
کور او کلی کی فاسده
که هغه چرته چانس راوړی
بیانــو جــوړه ګـډوډي ده
بــز کشی ده بــزکشی ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

عـجیبـه چـاپ انـدازان دی
څوک قوی څوک ضعیفان دی
څوک جاسوس دبل د ټیم دی
وایـی دا دیمو کـراسي ده
بـز کشي ده بـزکشي ده

بزکشی زموږ کلتور دی
ګرزیـدلی مو غرور دی
شی که خلاصه دا سیالي نن
سبا بیا همدا خـواري ده
بز کشي ده بزکشي ده
خدای که ښه بـزکش کامیاب کړی
چې سیل بین ټول پری حساب کړی
چې که ښه بـزکش کـامیاب شـو
بـیا د ټـولو خـوشالي ده
بز کـشي ده بـزکـشي ده

دا وزه د هـغـه مـال دی
چې مغرور په خپل کمال دی
لوی بـادار ورتـه ساتلی
ښکلی کپ رنګ طلاي ده
بز کشي ده بـزکشي ده

*********

۲۸ - ۷ - ۲۰۰۹



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د میـنې لار

پـه کومـه مینه چې اظـهار کوي
کلـه اقــرار کلـه انکار کــوي
په یو نـظـر بې زړه زما وړي دی
لکـه ښکاري د زړونـو ښکـارکوي
هسې پـه نـاز او کرشمـو تیـره شوه
لکه سپوږمۍ وریځ کې رفتارکوي
داسـې پـه مینه او ادا غـړیـــده
خـوږې خبرې خـوږ بـنـدارکـوي
مدې شوې تیـرې چې خبر بې نشته
قــاصـد چمــونـه د بــازار کوي
دا بـد قـاصد هم پـه نــازلو ارزي
ځکـــه د زړونــو کاروبــار کـوي
د افغاني زړه تـه بې لارمــوندلې
میــنه د زړه ، زړنـو تـه لارکــوي
*********
۲۰۱۰ - ۵ - ۲۵ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ها چې روږدي په تراخه دي

که ځوانــان دي که زاړه دي
ها چې روږدي پــه تراخه دي
دوی دي خام کله پــاخه دي
چې د ژونــد ځینې ماړه دي

د مـــاښامــه تر سهاره
د خـــزانه تـــر بـــهاره
دوی د کال په هر موسم کې
د غفلت پــه خوب بیده دي

د دنیا د کــارو زیــاره
د زحــمت او د روزګاره
ځانله نه ګوري ائینه کې
په اوږو د بـل پراته دي

د ژوندون ځانله مفهوم شته
حرکت شته هـم سکون شته
ددوی تـــول عمر سکون دی
د یخنۍ پــه شان ساړه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اشنا پرون

هیر شه مــازیګره د اشنا پــرون
ای د زړه پــرهره د اشنا پــرون
ما چې دکلونو پرې حساب کوه
وې وتــم د دره د اشنا پــرون
ما یې اوربدې لارې لنډولې خو
چا کــړم د نظره د اشنا پــرون
نور مې دخوبونو او خیالودنیا
هیره کړه د سره د اشنــا پــرون
اوس راته حساب کې دپردوښکاري
مینه ســوداګره د اشــنا پــرون
مات مې شو پالنګ دورختوتکل
کوز شــوم د بستره د اشنا پرون
بیا د ګلــروخانو په چم راغلمه
پوه شوم لــه هنره د اشنا پرون
پریږده افغاني نور پرې حساب مکړه
لاړ شه د نظره د اشنــا پــرون
۲۰۱۱ - ۳ - ۲۲ م۰ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داغلي زړونه

توري وريځې طوفانونه
غم لړلي ماښامونه

بيا اسمان ولې په قهر دی
بد حالت دی بدروزګار دی

دي غمجن غمجن وختونه
نا اميد داغلې زړونه

ځوانيمرګ ښکلې ځواني ده
دنيا هسې ده فاني ده

ځي داوښکو سيلابونه
پرې لامده شول ګريبانونه

ځوانيمرګ مو نن بهار دی
جګ نښتر لکه چنار دی

ربه راولې قرار بيا
د دې سيمې په ګلزار بيا

غوټۍ وسپړي خندا شي
خوشالي په هره خوا شي

ربه ختم دا ماتم کړې
خوشالي په هر قدم کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسمان لـمنې شنې کړې
د خوښۍ بلې ډیـوې کړې

ستا دربارته دوعـاګوی یو
چې پـدې خـــبره پوی یـــو

صرف تحفه زمو ږ ایمان دي
دا ژوندون یــو امتحان دی

--------------------------------
۲۰۱۱ - ۱ - ۲۲ م.کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نا معلومه انتها

دغــه حـــالات راتــه بد نامــه ښکاري
دا هلـې ځلـې هـــم ناکامـــه ښکاري

چې واک کې هيڅ په لاس کې هيڅ نلرو
دغــه اغــاز مــو بــې انــجامه ښکاري

داچــې مطــلب تـــه رسيـــدلی نشو
دا دصياد له مــکره دامـــه ښکاري

څوک چې زمونږ ځان غمشريکه بولي
دهغـــو نـــيت هغو د ګــامــه ښکاري

کلــه يقين کــله پيښمانــه يو مـــونږ
اوس د يـــقين خبره خــامه ښکاري

که مونږ پـه خپلـو کې يـــوموټی شولو
بيانو مطلب مونږ ته څوګامه ښکاري

د افــغــانــي ولــس خدمت لــپاره
ملي وحدت ښکلی له نامه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کليوالي مصرۍ

اوربل دې تور رخسار دې سپين دی
دا مې يقين دی چې به وشې ديدنونه

زلـــفې بې بيا پـــه مخ خورې کړې
دا پټ کاته بې په زړه غشي واروينه

د يار پـــه غيږه کـــې شين منګيه
غيږکې د يار بـــې مزه ماته راکوينه

د جلـــۍ شنه او ســـره بنـــګړي دي
شرنګ د بنګړو بې عاشقان ازاروينه

اوربل بې تور رخسار بـــې سپين دی
په لاري تګ د ښاپيرو کـانې کوينه

په لار کـــې پروت بـــې مات بنګړيه
راته را ياد شول د اشنا خواږه وختونه

پـــه لارکې پروت بـــې مـــات بنګړيه
راته راياد شول شوه د اشنا ډک مړوندونه

د يـــارد پـــوزې ســـور چـــارګـــلـه
مزې دې وکـــړې چې ليلا دې ګرځوينه

د يـــار د سپـــيـــن رخســـار پيـــکيـــه
شمال دې بوزه چې بې سترګې ووينمه

*********

۲۰۰۹ - ۱۰ - ۸



(c) ketabton.com: The Digital Library

# حیران یم

ځینو ،ځینو انسانانــو تــه حــیران یم
چې شکبر یــې پــه ظاهره او پنهان یم

په ظاهر به د ورورۍ نــه درتــه وایې
خود زړه پــه ارا دو یې بدګمــان یم

چې ته نه یـې بیا د بـل سره یـې مخ شي
ورته وایې زه دې دوست په هر میدان یم

خپلې ګټې به د بـل په زیان کې ګوري
زه دا مکر، دوه مخۍ ته یې حیران یم

په هرلــوري دنفاق اورونــه بل کړي
پدې کار کې باوري پرې د شیطان یم

سکني خوا خوږي، ورونه سره بد کړي
بیا په هریوپاچاهي کړي وایې خان یم

که دبل ســره خاین شــي ګناه ګار شی
خو ددین په نوم به څنګه مسلمان یم

د اخـلاص اود راستي ښکلې دنیا ده
پرې زوريږم غلطۍ تــه یې حیران یم

صداقت اوورورولۍ کې سرلوړي ده
ددوه مخو په دوستي تل پښیمان یم

-----------------------------------

۲۰۱۱ - ۱ - ۲۸ م.کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا څوک دي؟

دا څوک دي چې تاريخ او په زمان موشک لري؟
احساس مـو راته وژني په ايمان مو شک لري

مورږ سر د هر جنجاله د خپل سر په بيه جګ دی
زمورږ پــه قوي عــزم او پيمــان مو شک لري

فطرت کې مو ځای شوی آزادي د خپل ولس ده
ښکاريږي چې په لوړ نوم د افغان مو شک لري

باتــور د زمانې وم پــه ملکو مو واکداري وه
زمورږ دجد په ځــمکه او آسمان مو شک لري

ولس مـو راته وژنــې د پردي سامراج په امر
زمورږ پــه ارادو د زوړ او ځوان مو شک لري

دښمن که مې پــه خپلو کې نفاق ته سره بولې
په پوهه متانت او پــاک وجدان مو شک لري

ډير ژر بــه بې خپل عقل په سر راشې لــرې نده
چې څوک مو په بري د جنګ ميدان موشک لري

نن هرڅه نــه ای ورو نو ديــوالي ضرورت دی
يو کيږي هر افغان پدې آرمــان مو شک لري

*********

۲۰۱۰ - ۴ - ۲۴ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مطلب اندېوال

چرګ مارغه، الوتی نه شي
خودباز پــه وزرو خاندي

نې په خپله څه کوی شي
نه دبل په سود اوزیان دي

بل تــه هیڅ ویـلی نه شي
بس دکور داړه ماران دي

دا سپین سترګي بې کماله
دښمنان خپله د ځان دي

زړه یې سوړلکه کنګل دي
دبــزمونــو نــقادان دي

ددوی مــینه بـازاري ده
د مطلب انـدېــوالان دي

----------------------------
۲۰۱۰ - ۱۱ - ۸ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مه وژنۍ !

مــه وژنۍ نورسه ځوانان مه وژنئ
نور دا ببر سرمـــاشومان مه وژنئ

بس کړئ دغـــــه ظلم او جفا نـوره
نورد کلي زوړ اوځــوانان مه وژنئ

پرېږدۍ چې ګلونه شي باغونه شي
زموږد انازولي بچيـــان مه وژنئ

تاسې به هم کــــور لرئ اولاد لرئ
دغه بې ګناه انسانان مـــــه وژنئ

صرف دغـارتګر اوترهګر په چـــم
نور مــــو د ايئن لارويان مـه وژنئ

--------------------------------

۲۰۱۱ - ۲ - ۲۵ م.کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپرلی سپرلی وطن

موسم د سرو ګلونو نو بهار مې را په زړه شي
شيبې خوږې وختونه د دلدار مې را په زړه شي

شعلې چې بې د حسن او ښکلا هر لور خپرې وی
هغه ښکلې ساقي او سپين رخسار مې را په زړه شي

پرون چې وه پرديس نن ها خيالونه مې کوربه دي
ښايسته ښايسته باغونه ننګرهار مې را په زړه شي

په مينه او اخلاص چې د هر لوري ورته درومي
جنډه د سخي جان ښکلی مزار مې را په زړه شي

قندهار کلي بانډي او د ميلو په جم او جوش کې
باغونه د انګورو ، سره انار مې را په زړه شي

غزني کې هم پراته دي رسيدلي زيارتونه
د خوږ وطن تاريخ او افتخار مې را په زړه شي

پامير په جګه غاړه د اسيا يو هسک غرور دی
سپين غر لمنې سرې شي لاله زار مې را په زړه شي

علما هم د وطن زمونږ د پوهې پسرلې دی
هرات کې عالم پوه خواجه انصار مې را په زړه شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بادغیـــس پــه وچــو دښتو او د للمو په تــپو کې
هغه لوی لوی ځنګلونه پسته زار مې را په زړه شي

بانــډي هــا کلا ګــانې پــه دره د الیشنګ کې
تګاب ، نجراب راوا خله ګلبهار مې را په زړه شي

لغمان مو هم ډیر ښکلی طبیعت شي په سپرلي کې
ښایسته عمرزائي او الــینګار مې را په زړه شي
*********
۲۷ - ۱ - ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وواېـــه !

وواېــه اشنا که راتــه څه واېي
اورمه که بــد یا راته ښه واېي

ستا لوري مې ټول په ځان منلي دي
ستا زړه کــه خوا ږه که څـه ترخه واېي

ماته په رښتیا باندې منظورېږي دي
واېـه د رنـد ی که دې د زړه واېي

زه خو دې په مـینه باندې پایمه
ته به اوس پدې کې راته څه واېي

پــوی یمه اشنا په دې باوریمه
ماته د خوږلن زړګي خواله واېي

-----------------------------------

۲۰۱۱ - ۱ - ۲۲ م.کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه لنډه کيسه د مور د ورځې په مناسبت

## د مور زړه

يــو کيسه د يــوې ښکلــې ناوکۍ
وه حسينه پــه مثــال د ښاپـــيرۍ
د ښکلا شهرت يــې ډيــروه بې انداز
چې پــرې خپلــه وه اګاه لــد غه راز
ډيرځــوانان يې د ښکلا وه خريدار
کبرجنه ډيـــر مــغــروره پــه رخسار
ښکلی ځوان وه په هغې زړګي بايللی
هغه حسن يــې زړګــي ترګوګل وړی
په خپل فــکر کــې با عزمه با ايمان
ښکلې پيغلې ته يې اظهارکړه خپل ارمان
پيغلې وليده چې ځوان دی هسې ښکلی
چی په مابانديې خپل زړګی بايللی
چې دځوان اظهاريې واوريد په ښه شان
ورته وړانـدې کــړه خپل شرط په هغه ان
که دې شــرط راته قبول کړه زه يم ستا
بــی لــه شــرطه بــه دې نشــمــه ليلا
ځوان ويــلې چې هــر شرط ته يــم تيار
راتــــه وايــه چــې زه نــلــرم قــرار
ويل چې شرط مې دی مشکله که پوهيږې
هــمدا اوس بــه د مور کورته روانيږی
مور دې مــړه کــړه ماته رايوړه لړمون
پس لـــه هغه به کامياب شــې په ازمون
زه بــه ستا شمه ژوندون کې تل مــدام
که قبــول کړې زما شـــرط زما مرام
ځوان په منډو د خپل کورپه لورې سرشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپل مور ته رسېدلو په تکل شو
هلته ګوري چې بې مور په خوب بیده وه
بې خبره د خپل ځوی پدې قصه وه
لوی چاړه یې د خپل مور په ګوګل سر کړ
سمدستې یې د خپل مور ځیګر بهر کړ
دا ځیګر یې کړ په لاس په منډو سر شو
د جلې په لور بې عزم او سفر شو
ورخطا د هغې پیغلې په لور سروه
لیونی د خپله ځانه نا خبر وه
چې نا څاپه یې پښه شوه لارکی بنده
راګوزار شو دیو غت کانی تر څنګه
دی په خپل درد او فریاد باندی اخته شو
مور ځیګر هلته ګوزار او کللوله شو
مور ځیګر نه دا اواز شولو بهر
اه ، پاک ربه چې مې ژوبل شو پسر
د اواز په اوریدو په چغهار شو
ځوان په هغه سات د خوبه را بیدار شو
چې د خوبه یې سرجګ کړ د م ساعت
موربې سر ته ورته نا سته په هیبت
موري غږ ورباند ي وکړ ځویه څه دي
بیا نا ارامه وي خوبونه دې درانه دي
ځوان چې خپل مور ته له ورایه وکتل
له هیبته یې پښو ته ودانګل
ویل مور جانې زه یم ستا اصلي قاتل
ما ته عفه کړه انصاف نه وم غافل
تا روزلی یم خپل نفس کې تر دې دمه
چې ژوندی یم زه به ستا قدر ساتمه
خورېموجود یې ته خلقت د پاک سبحان


(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا دا پــاکې عــاطفې تــه یم حیران
مور ده مینه مور احساس دی د ژوندن
یــوهستي ده هــم رڼــا د سبــاوو ن
هــغه ځــوک چې د مور قدر ته رسیږي
د خالق پــدی پیرزوبــانــدې پوهیږي
پــه دنیا کې تر هــر څه نــه خوږه مور ده
مور نعمت ده مــور ښکلا د هریو کور ده

----------------------------------------

۲۰۱۰ - ۵ - ۹ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تیر وختونه

څه حالات مو په وطن دي چې تیریږي
ځواني هیلې ارمانونه مو ژړیږي

څه وختونه فرصتونه په تلو تلو دي
زموږ هیلې امیدونه په سلګو دي

او سیده په یو مالت کې ښکلې ځوان
وه قانع په خپل قسمت په خپل ګذران

شپه او ورځ ئې په زحمت او مزدوري وه
کړ د ځمکې د نیکو یې غریبي وه

وه خوشاله خپل مالت کې دغه ځوان
هم راضي په سخاوت د پاک سبحان

بد حالاتو د وطنه مسافر کړ
دي ناخوالو د کلونو مهاجر کړ

شپې او ورځې تیریدی میاشې کلونه
ورپه زړه شو د وطن خواږه وختونه

هغه کلی هغه ښایسته باغ او ګلزار ربیا
د سپرلیو او فصلونه نو بها ربیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادول یې شپه او ورځ خپل وطنونه
د مالت هغه شیبې خواږه یادونه

ویل چې خدایه خپل ملکونه مې یادیږي
د وطن شنه شنه فصلونه مې یادیږي

د ودونو او دودونو رواجونو
ها دیرې ها مجلسونه مې یادیږي

د پی مخو ښکلو پیغلو بیر او بارکې
هغه لوی لوی زیارتونه مې یادیږي

د چینې نه د اوبو منگې په سر کې
ها د پیغلو کتارونه مې یادیږي

په اختر کې د ځوانانو ډلې ډلې
هامیلې او اتڼونه مې یادیږي

رنگ په رنگ ښکلې جامې د طاعتونو
په مسجد کې ښه وعظونه مې یادیږي

مړ اوبل داوربلکو الوتنې
د بامو د سر خوبونه مې یادیږي

څو مره ښکلې څه ښایسته کلي باندې دي
جم او جوش د بازارونو مې یادیږي

یادول یې زیاتوي د زړه دردونه
افغاني ها تیر وختونه مې یادیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مينې راز

دمــينې راز مــې د اشنــا سره وه
لکه د ګــل چــې د بـورا ســره وه

لکه درياب هاند اوڅپې ،څپې وم
کـار مې د مـی او د میــنا سره وه

چــې وم د مينې پــه وفا بـــې باور
دا سې مې راز هغې ليلا ســره وه

هـره شيبه هــره لمــحه بــې بوله
څــه د روا څــه د ګــناه ســـره وه

د ا بې د مينې او وفا شيــبې وې
د نــاز کاته بــې د مسکا سره وه

افغاني څومره ښې شيــبې تيريدې
د خوب تعبير مې په رښتيا سره وه

*********

رايسويک - هالند
۱ - ۱ - ۲۰۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سولې دښمن

چــې وې د سولې او صــفا خبرې
د افــغانــانــو د پــخلا خــبرې
وي د وروري اوبــې ريــا خبرې
دا د لستونــي مــارا نــكاركوي

دی په جنګوکې خپل هستي غواړي
د افغانــانــو تبــاهــي غــواړي
ځانله بزنس دبــل نيستي غواړي
ځکه د ســولې نــه دئ ډار كــوي

دی د سبا ورځــې حساب بيرو ي
دخپل كړه وړونه بې ځواب بيروي
دی د كاذب وجدان عذاب بيروې
پــه ســولې كلــه اعتبــار كــوي

زموږ مالت بې په سوراور سيځلی
د چا خرمن د چا بــې كور سيځلی
زمو ږ وطن بې لور په لور سيځلی
دغه جانې كار دخــونخوار كوي

دی برالا د بــل پــه ډول ګــډيږي
په سپين سترګئ دبل په زورغړيږي
خبره يــو وي خــو دئ نــور غړيږی
خايــن دښمن دې چــم د مــار كوي

د شرق اوغرب دوئ پــه فرمان دي
هسې پــه نوم بــانــدې افغان دي
دوئ مو لستونې كــې ماران دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## صرف افغانیت په خوله اظهارکوي

دو ئ پښتانــه هــم پشئي وژلي
هم يې ازبک نــورستاني وژلي
دوئ د افشار واړه بچي  وژلي
اوس هم په جنګ باندې ټینګارکوي

راځئ اي ورنـــو اتحــاد جوړ کړو
چی سره یوشوخپل هوادجوړکړو
سوله یوالــي تــه بنیاد جوړ کړو
پردي په جنګ باندې تلوارکوي

دا د باتورو شاځلمیانو کور دی
دبا ایمانــه دین دارانــو کور دی
د بـــاعــزتــه افغانانوکـــور دی
افغان پــه سولې تل اسرارکوي
۱ - ۲ - ۲۰۱۰   م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علامه محمدسعید «سعید افغانیَ
د ۱۳۵۲ هجري شمسي کال د لیکنې پر بنا

# دا څه حال دی ؟

پوه نه یم چــانه دا پـوښتنه وکړم
څنګه ددې حــالت څیړنــه وکړم

څوک به ددې تپوس ځواب ووایي؟
ددې حالت راتــه حساب ووایي

ډاره ، هراس خو موخلاف ته بیایي
دا سیاست وال موانحراف ته بیایي

ارتجاع ،هروخت د دوکو سره ده
خاین، خپل شومو پلا نوسره ده

د بلې خوا دا د څــوکۍ نوکران
دي د ولــس اوتــرقۍ دښمنان

اجنټ د لاســه دا وطن تباه دي
د جــاهلانو نــه امید خطا دي

استعمارګر راته نیرنګ ښکاري
روشن فکران موهم کمرنګ ښکاري

یو څــو کاذبه د قــدرت لیونیان
پردی پــه زور د حاکیمت لیونیان

په چپاول باندې روږدي دي تمام
دا وطن پــال مو زنداني دي تمام

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دې حالت تــه به څواب څه وي؟
دې ته رښتينى فصل وباب څه وي؟

که پـــرده جگــه دعيبونو کاندې
يا بر ملا د دوئ ظلــمونو کاندې

که واى چې ځومره بيکاري ده دلته
ټول ناداري بـې روزګاري ده دلته

وايي، چې ستا پدې کى کار نشته
ستا حاکميت کـــى اقتدار نشته

که واي ځوانان موټول بهرته درومي
د پـــردو زجـــر دبل در ته درومي

هلته تـــوهين او رټـــل کيږي تمام
دوي پـــه ناحقه وژل کيږي مدام

واې ،په تا څه چې ټول افکار پاروي؟
؟زموږ قدرت زموږ روزګار ورانوي

که واى دا مرستى کو م ځواب نلري
واى د خيرات پيسى حساب نلري

واي ،سيـــاست کـــې دتا کار نشه
خيرات اشنـــا نـلري يـــار نشته

ما ويل، ملـت او بودجه يعنې څه ؟
واي، ز موږ ه خپله اراده په تا څه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصـــر فـــو بېـ خپل بـقـــا لپاره
د خپل مـــراد او درضـــا لپاره

که وای قدرت کې دي ناپوهه خلک
وای ، پکار ندي زموږ پوهه خلک

تر دولسمه شپږم پـــاس ښـــه دی
تحصيل يې څه کوو اخلاص ښه دی

اوس دی چنگيز او هلاکو په قدرت
ستا وظـــيفه ده دحـــاکم اطـاعت

که دي له دندې نه دي شوې بې خبر
ګنې چـــې ګورې ، ډبلۍ او ستا سر

دوی دخيـــانت کلـــه اظهار کوې
وای، داســـې نده ترې انکار کوي

که وای ژوند دعالم، پوه بدتر دې
وای، ددې راز افشا کـــول خـــطر دی

که وای تشخيص دمرض ورونډ ښکاری
وای زموږ کار موږ ته سمون ښکاری

ما ويل، قانون مو د ځنګل قانون دي
کوتک ، ډنـــډې او دچلول قانون دی

يو ډارن غړ کړه چې دا څه وايې يار؟
ځان دي په خپله خيژوې ته په دار؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ویــل ډاریگه مه جـرت دی په کار
لږ څـه احساس د مسؤولیت دی په کار

د ژوند ماهیت په حقیقت ښکلې دي
ژوند په همت او مسؤولیت ښکلې دي

هــاد وطــن تاریـخ ته پام وسا ته
لــږ د نیکــونــو احترام وسا ته

ای هیوادوالو دا لوی فرض دی زموږ
داخپل گفتار ته عمل قرض دی زموږ

نور د پــردو د دوکــو ښکار نشئ
چې پـه لمسون د لوی اغیار نشئ

د یــو بــدلــون او د سمون لپاره
د یــو واحــد وطن د شتون لپاره

دې بــد حالت ته نور انجام شوسره
یو عملي گــام او اقــدام شــوسره

-----------------------------

۱۵ - ۲ - ۲۰۱۰ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سندره

یوه نغمه یوه سندره
یوه ماشومه، ملغلره

چې هم مینه ده ښکلا ده
محبت ده مشغولا ده

د نیکه د زړه دنیا ده
ده ډیوه د کور رڼا ده

مور او پلار یې هوسیږي
دا سندر چې لویږي

دا سندره به نغمه شي
په هر لوري به خوره شي

دا به هیله شي اسره شي
دوطن د باغ میوه شي

رب دې تل لرې خوشاله
دا ماشومه سندرواله

دا احساس دابه وږمه شي
دا ناهید یا زرغونه شي

کورنۍ ته افتخار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغاني عزت ، وقــار شي

----------------------------

وړه او خوړه ماشومه سندرې او د هغې

عزتمندې کورنۍ ته ډالۍ .

۲۹ ـ ۲ ـ ۲۰۱۰ م کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آزاد افغانستا ن

چې کلــه ګل کله بوستان یــادوم
زه مـــې د خـوږ زړګي جانان یادوم

څوک به سپیڅلې دیار مینه ستایي
زه هــم نرګس سره بوستان یادوم

زمــا قــلم او مـــحبت معلوم دی
جنګ نه نفرت زه خپل آرمان یادوم

ټوپکه مات ،ظالمه سر دې وخورې
زه مې په ســوله کې ایمان یادوم

یوائې جنګ ندی چې لار پیدا کړي
زه پــه قــلم د ژوند داستان یادوم

جنګ تباهي ده جنګ وحشت راولي
د قــاتــلانــو تیر زمــان یــادوم

دا چــې غلیم مې په بـاغونو ګرځي
پــه اتفاق کـــې غلیم وران یادوم

چې شل په سلو کې قدرت غواړي دوی
زه پــه لستوڼي کـــې ماران یادوم

دا د پــردو استــخبـاراتـــی ادارو
ښکاره او پټ جیره خوران یادووم

دا وزارت خــو د خدمت موخه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د چوکی ټیــکه داران یــادوم

راشه چــې غــاړه شو غړی شو سره
په وروری هــر مشکل اسان یادوم

افغانــه پریــږده د توپــک خبره
پــه هوښاري بـُرد د میدان یادوم


راځه چې لاس د وروری ورکو سره
د ازوریــدلــي افغانــان یــادوم

زه دښمــني د ټوپک مار سره کړم
نه چې د دین خدمتګاران یادوم

ټوپک دې پریږده سترګې خلاصې که نور
والصلح خیر پــه نوم قــران یادوم

افغاني یــوکــړه دا خواره قومونه
بــیا به ازاد افغانستا ن یــادوم
----------------------------------
۲۰۱۰ - ۷ - ۷ م.کال
مهاجرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوندون نلري بقا

دا بحرونه دا فضا
دغه ځمکه دا هوا
دا هستي نن او سبا
ده فاني دغه دنيا

که بادشاه وي دملکونو
هم صاحب د کرورنو
د بنګلو او بلډنګنو
خو ترې تللي وي فردا

دبدبې او عزتونه
د قدرت مغرورو ختونه
ها قصرونه او برجونه
چاته نلري بقا

ای مغروره د هستيو
د قدرت او د چوکيو

د عيشونو او خوښيو
د ژوند نده دا مانا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لــړ دمـــه شه د غـروره
ای د بـــل په زور باتوره
شـــرم ښـــه دی د تربوره
کړه حاصل د خدای رضا

لړ انصاف درته پکار دی
ولس ټول درته په قهردی
سباواک د بل واکدار دی
مـــکړه ځـــان ســـره جفا

عمر ټول پـه تیریدو دی
داکاروان پـه رسیدو دی
غفلت کار د لیـونو دی
ښه عـــزت لري تــقـوا

ځان دې پـیژنه انسان یې
بې خــبره د خپل ځان یې

چې په غیر لارو روان یې
نور د خـدای غـواړه پناه

سباخـدای ته دې رفتن دی
ژوند ختميږي ځانکندن دی
بس یــو ځــو متره کفن دی
ځــه ځـــواب کــړې د الله؟

.......................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څه تیریږي؟

خدای پرې خبردی چې به څه تیریږي؟
چیرته بــه بـد چــیرته به ښه تیریږي؟
بــدې شیبې زمــوږ پــه زړه تیریږي
چې ټانک د کلي پـر ویاله تیریږي

جنګ مو سپین ګیري او ځوانان ژړوي
دبمباردنـــوم مــوهــر افغـــان ژړوي
دود د بـــاروتـــومــو آسمـــان ژړوي
ځوک په ښکاره ځوک لکه غله تیریږي
چې ټانک د کلي پر ویاله تیریږي

هر خـــواته مــرګ دی افغانان مـري
زمــوږ امیــد ســره آرمــان مـــري
زمـونږ دکلو زوړ اوځـوان مـري
ځوک نــا بللي میلمـانــه تـیریږي
چې ټانک د کلي پــر ویاله تیریږي

داخو عمل دکوم خونخوار ښکاري
چې عدالت پـه نوم شعار ښکاري
انسان وژنــه پــه اشکار ښــکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه تـر شپـولې چې لیوه تیریږي
چې ټانک د کلي پر ویاله تیریږي

ته بــه هم کلی لــرې کـور به لرې
زړه سپین سرې شانته مور به لرې
ماشوم بچي بـه لرې ورور به لرې
په بل چې کاندي پــه هغه تیریږي
چې ټانک د کلي پرویاله تیریږي

په زور په بل حاکمیت ګران کاردی
دا ورور وژنـه د نا دا ن کــار دی
خیــراوفــلاح دمسلمان کـار دی
څه به په سیمه اوکـالــه تیریږي؟
چې ټانک د کلي پر ویاله تیریږي

بس دی مرګــونه او نـاتارکلو کې
سـوله، جـرګه شې او اتبارکلـو کې
پریږدی، چې راشې نور قرار کلوکې
په ببر ســر ماشوم به څه تیریږي؟
چې ټانک د کلي پرویاله تیریږي

---------------------------------
۲۰۱۰ - ۸ - ۲ م۰ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غــزل

نن چــې مــې اشنا راته غصه ښکاري
ښکاري چــې دنيا راته غصه ښکاري
مــا دښو لانــدې پـــټ کاتل ورتــه
خدايګو په همدا راته غصه ښکاري
څه مــې په وعــده کې خطائې راغله
ځکه پــه بيا بيا راتــه غصه ښکاري
هسې مې ټول ژوند په غم بدل کاندي
دا چــې دلــربا راتــه غصه ښکاري
کړم يې بــدرګه په سرو غنچود ګل
ګرم يم خاماخا راته غصه ښکاري
زه يې اوس دزړه په احوال پوه شومه
دا چـــې برالا راتـــه غـــصه ښکاري
ميـــنه، محبت لـــري په زړه کې يار
نشې چې رسوا راته غصه ښکاري
خوند کړي افغاني دا پښـــتنه ميـــنه
ده دزړه دنـــيا راتـــه غصه ښکاري
۲۰۱۰ - ۸ - ۲۸ م ۰ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناجات

ربه ستا دربار دی لوی
موږ یو ټول ستا ثنا ګوی

ته عزت چا ته نصیب کړې
څوک ذلیل کړې سیاه روی

تفاوت لري خالقه
ستا مخلوق په رنګ او خوی

یو هوښیار کوي کارونه
بل جاهل بې ادب لوی

څوک ظالم خانه خرابه
دی مکاره دروا غګوی

ربه تا دي پیدا کړي
څوک عاجز څوک فضول ګوی

تکبر چې پکې نه وي
ها عالم د عقله پوی

چې په پوهه علمیت مري
د هغوی شته دوعا ګوی

چې په جهل کې پیدا شي
خدای دې نکړي چاته لوی

چې په سمه لاره سر دی
افتخار په داسې څوی

نورو صلحه کې ژوند تېر کړ
موږ په جنګ کې شو را لوی

۲۰۰۹ - ۸ - ۲۵

**پټ انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مات کړه دا طلسم راښکاره شه نور
پرېــږده دا غـرورلـېږګذاره شه نور
غواړم چې انځوردې خیال کې ځای کړمه
څو شیبې دسترګوننداره شه نور
ژونـددی زر تــیریــږي بقــا نلري
راشه دزړه کـورکې مې دیره شه نور
څوبه تصورکـــې وي خیالې دنیا
راشه دژوندې مینې کیسه شه نور
والــوزه وزرې دې راپــرانـــیـزه
مات کړه دا قفس ترې بې ګانه شه نور
ته نـور دتعصب زاهــده ډار مکړه
وخانده دژوند خــوږه نغمه شه نور
دا د پــاکې مینې ارمـانو تــه یار
راشه ورتــه وخـانده دمه شه نور
مات بــه مې خمارشي د اوږدو کلو
ښکلې د ســروزرو پیمانه شه نور
-----------------------------------
۲۱ - ۸ - ۲۰۱۰ م۰ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپيځلي ارمانونه

ګوره پــــه مينه پــــوهيدلې اشنا
په زړه کې پوهه په خولې غلې اشنا
خوښه چې وائې په رښتيا يې وايې
ای په خلوت کــې نازولــــې اشنا

دا ستا د مينې پــټ الهام ته سلام
د مينې ډک خواږه پيغام تــــه سلام
ستا د معصوم زړګي اسرونه لوګی
ستاد اخلاص ښکلي انجام ته سلام

مورډ وحشي صياد په لومه کې بند
دځــــوانو هيلو ارمــــانونو کې بند
ميــــنه د زړه اظــــهارولــــې نشو
يو د تعصب وړنــدو چمونو کې بند

راشه چې مينه شو ايمان شو سره
يو ښکلي راز شو او پيمان شو سره
ای پــــتې مينې د حــــيا نــــه ډکې
راشه د خوږ زړنــو درمان شو سره

دغـــــه طلسم مــــاتول دي پــــکار
په جهد مطلب ته رسيدل دي پکار
چې دايم عــــزم شو همت شو سره
دغه تياری سبـــــا کـــول دی پکار

---

۲۲ - ۸ - ۲۰۱۰ م۰ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوندون څه دی؟

دا ژوندون یو امتحان دی
چاته سخت چاته اسان دی
چې په سمه لار کې سم وي
ورته فضل د سبحان دی

د بد کارو بد انجام وي
ریاکار کله نیک نام وي
چې د ښو تمه ترې نه وي
کور او کلي کې بدنام وي

دنیا سیند په خیر بهیږي
د ښو ښه نوم پاته کیږي
چې عبث ترځي وختونه
خپل مقصد ته نه رسیږي

ژوندون نلري بقا تل
وي انجام د ابتدا تل

څودې وس رسي نیکي کړه
چې فاني ده دا دنیا تل

ته د پوهې ترفدار شه
ښه تعلیم وکړه هوښیار شه
د دنیا په کار او زیار کې
څه همت وکړه بیدار شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه چانس په تیرېدو دي
بس فرصت دې د شیبو دی
غــافــل نشې د ایــامـه
چې ایــام درنــه په تلو دي
---------------------------
۳۰ -۹ -۲۰۱۰ م۰ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توپکمار

خپله کارغــه دي چــم د بــاز کوي
د ډيره کبــره جګ پرواز کوي

د ابې کمالــه د قـــدرت ليونيان
نه ترحـــم شته نـــه لحـــاظ کوي

دا قاتلان دي توپکماريې ګنه
هسې تبليغ دور او دراز کوي

خودوی په خپله په دې ښه پوهيږي
چې تـــل ګـــډ ادغير په سا ز کوي

دغـــه دنيا دا لباســـي وختونـــه
دايمه نـــه ده چـــې پرې ناز کوي

زموږ د ديـــن او د ائين پـــيروان
خداي ته د سولې راز ونياز کوي

ربه تباه کـړې فرعوني زورواکان
چې ستا مخلوق سره ناساز کوي

----------------------------

۱۷ - ۱۰ - ۲۰۱۰ م ۰ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پټ کاته

نن چې اشنا سترګو کې کتل کوي
ښکاري چې په زړه کې څه ویل کوي

جوړې تماشې یې دي چشمانو کې
خیال کې مې انځور د کوم غزل کوي

خوندیې پټ کاته کا سترګو سترګو کې
مینه ده د زړونو ښکارول کوي

پریږده که غماز ورته هرڅه وایي
نه منې د بل هغه چې خپل کوي

حسن ده ښکلا ده په همزولو کې
خوندیې رواجونه د کابل کوي

-----------------------------

۲۸- ۱۰ - ۲۰۱۰ م، کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لویه ربه

څــه ویرجنــې سلسلې دي
څه غمجـن ساړه وختونه

تـرمـې اوښکـې دي روانې
پرې لامـده شول ګریوانونه

زه د مـور پــه حال جړیږم
چــې اوس ګالــې ګړاونه

هــره ګــړۍ هــره شیبه یې
یــادوي خــپل مــالتونه

نــا امیده لــه هــر خواده
ځان ځانــي ده تکلیفونه

اوس یې خپل ترې پردي شوي
پردیسي پــردي ملکونه

ربــه داســې تــوان را کړې
چې یې وکــړو خــدمتونه

د مور قــدر او خدمت کې
خدای نصیب کړي جنتونه

څه حالات ښکلې شیبې وې
دځــوانی ها تیر وختونه

عمرسیند غوندې بهیریږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مــري سيندونــه دريابونه

موري خدای دې نګهبان شه
کړو پاک رب ته دا سوالونه

دا غمجن زړګی يې ښاد کړې
کــړه نصيب يــې راحــتونــه

ته مو دا ارمــان پــوره کړې
تــرينه لــرې کــړې دردونــه

-----------------------------

۳۰ - ۱۰ - ۲۰۱۰ م، کال
مهاجرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغم وريځې

دغم وريځې بيا په شنه اسمان خورې شوې
بيـــا د قـــهره د افــق لــمنې ســرې شوې
نــن داوښکــو دريـــابـونــو حساب نشي
چې په سرمود ځوانۍ خاورې ايرې شوې
خپل په وير، پردي په وير هرلورې ويردی
نامراد د ښکلي ځـوان د زړه اسرې شوې
ځوانيمــرګـــې ارزوګــانـــې اميدونـــه
ټول دخاورې سره خاورې افسانې شوې
دا ژوندون راته عجيبه شانته ښکاری
هرې خواد ځـــوانيمرګو هـدېرې شوې
دا شيبې، شيبې دغـــم او د مـــاتم دي
پدې کليو، مالتونــودغم شپې شوې
ربـــه تـــه د درديدلـو زړنـــو مـــل شې
چې دچـــا داميدونو ډيوې مـــړې شوې
----------------------------------------
۲۰۱۱ - ۱ - ۲۸ م.کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوه عجيبه خاطره

يو عجيبه خــاطــره د تير وخــتونـو
پــه ښوونځی کې د لسم ټولګي کلونو

هره ورځ درس او تعليم ،کتاب درسونه
امتحان وه هم کامياب ،ناکام وختونه

يــوه ورځ ټولګي کـــې وويـــل استاد
نوې زيري درکـوم چې شی پـرې ښاد

ويل سبابه درس ټولګي کې نه تيريږي
پروګرام به بيا په بل ځای کې جوړيږي

سبا تاسې شاګردان ځـي سرګرمۍ ته
هـم تفريح او يـــو نوې سير علمۍ ته

چې سبا مــوږ د خپل کوره راروان شو
د استاد په پلان پـــوه هغه زمـان شو

ويل چې ځو د زو بڼ ښکلو ننداروته
تاسې بولم دژوندون رنګين صحنوته

هر ژوندي ته چې ورځۍ وکړی پرې فکر
ټول يادداشت کړی بيا ټولګي کې کووذکر

چـــې ورورسيدو دغـــه د زو بـــڼ ته
تلوسه مــو شوه د هر ژوندي ديدن ته

وه پـــه بڼ کې ټــول وحشي ځناوران
ځوک حيوان ځوک يې ښايسته پرنده ګان

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا بیا ولیکه یاداشت پــه بیزو ګانو
د هــوسیو پــه واړه واړه بچیانــو

چا شروع کړه دزمرو د ژوند صحنونه
د هغو د ژوند او ځــای د اوسیدو نه

زه او دوست مې یو خبر تــه شو حیران
هغه دم یــوه صحنه شــوه را عیان

ما ویل ګوری، دی حالت نه لږ خبر شیـ
سیمساره او دا چــرګوړو تــه نظر شیـ

سیمسارې اوبو د ډنډ نـه سر اوچت وه
د دوه درې ورځو چــرګړوبـد حالت وه

څوک په سر د سیمسارې باندې روان وه
څوک ترې لرې په ګوشه ترې په ترسان وه

دری ځلور چوچه مــرغان ترې شاوخوا
ګرځیدل څــوک ازرده څوک بې پــروا

ما پوښتنه خــدمتګاره ځینې وکړه
ما ویل د اچوچه مرغان نودلته څه کا؟

ورته جــوړ کړی مناسبه شانته ځای
پرې چې اوسي آسوده د ژوند تر پای

ویل چې نه ! دسیمساریو دا خوراک دی
ورځ کې څودانې چرګوړي استحقاق دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ ژوندي يې هره ورځ ورته راوړو
دا خــدمت دي سيمساريو ته يې کوو

ما چې وليدل عــاجز، عاجز چرګوړي
چې نه کور ځانله لري نه کوم ځاي سوړي

بس چې کله سيمساری پرې ورګذار شي
د چرګوړو ځينې ورکــه خپله لار شي

زه او دوست شلوو غمګين پــدغه راز
و لوي رب ته مو په زړه شو راز او نياز

ربه دا د ژونــد قانــون عجيبه شان دی
چې دا يو ژوندی خوراک دبل حيوان دی

پدې دير کې کاشکې دا نــه پيښيدلی
چـــې يوه، د بل چـــا ژوند نه ختمولی

کاشکې هر ژوندون ارامه کړی ژوند وای
دا چرګوړې به اخستی ژوند نه خوندوای

يو انسان ولې ژوندی د بل خوراک کړي
داګناه ده دغه کار به کوم بې باک کړي

لا تر اوسه دی حساب تــه يــم حيران
څه قانــون دې د مخلوق ددې زمان

په بحرو کې هــم همدا شانې پيښيږي
په وړو ماهيانــو غټ نهنګ مــړيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا غرڅه چې د لیوه کله په ښکار شي
وینې وزبیښي په غوښو یې نشخوار شی

وای لیوه څومره ظالمه او خونخوار دي
حقیقت کې انسان دې نه بد رفتار دی

د غوایې غاړه کې تیز چاړه کړي تیر
وینې تویې کړی په غوښه کړې ځان سیر

د دنیا داسې قانون ته یم حیران
دا سیستم دی د ژوندن په دی جهان

-----------------------------------

۲۰۱۱ - ۲ - ۱۲ م.کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوږه مينه

هرګرې مې د يار مينه ژړوي
لکه شمه په سور اور مې سوزوي
راياديږي هر شيبه هره ګړۍ بيا
خوږه مينه زړګی کله هيروي
غنمرنګه جګه ونه سورسالوکې
په ښکلا د ققفاز حورې شرموي
بيا ليلاځي مازيګر په ګدر نو
شين منګی په لپه ورو ورو ډکوي
زه د يار د مينې ځکه رضامند يم
واي څه چې څوک کړي هغه ريبي
ياره ستاد مهرګرو سترګو سحر
بيا چيچل کړي لکه تږي منګري
اوس خزان چې په بهار مې راروان دی
خوږ موسم هسې تيريږي د ځواني
---------------------------------------------------
۲۰۱۱ - ۲ - ۱۵ م.کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تل به نه وي

نه بل تل دا پاچاهۍ نه عیش نوش وي
نه بــه تل دا غلامـان حلقه بګوش وي

نه به تل وي دا مــانۍ نه دا قصرونه
نه ساقي نه میخا نه نه باده نوش وي

نه به تل وي مــازیګــر د ګدرغاړې
د پی مخو چتو پیغلو جــم، جوش وي

نه به اوړي کاروانونــه په البند بیا
نه به بیا دپسرلــي هغه خروش وي

که یوه شیبه له ځانه سره سوچ کړې
ددنیاوعجایبوتــه دې هــوش وي

دا دنیادغــه فضاه دا اسمــانونــه
دسبحان دا عظمت به درته روش وي

کوم ساعت چې سترګې پټې له دنیا شي
خپل پردي به دې دغمه سیاه پوش وي

چې کــري هغه بــه رېبي دامتل دی
بدکردار به دې ترعمره بـاردوش وي

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملال زړونه

چې د بل په خفګان ځان ساتي خوشال
دا غــرور دی داســې کبر شــه زاوال

داسې نده چې ژوندون چاله همیش وي
دا دریاب دی چــې بهیږي زود مهال

څوک چــې بل ازاروي خپله ازار شي
چې ازار نکړې په ژوند کې د چا سیال

زه د دوست او اندیوال نه معافي غواړم
که پوه شوی وي نا سم په کوم منوال

د بل زړه خوشالول لوی عبادت دی
د فــلاح نــاره بــلنــد وه د بــلال

احترام د عــزتــمندو او پــوهــانو
دا حکــمت دی عــلامه ده د کمال

په اصلاح د تیر وتو کې بدي نشته
ناپوهــان به تل مغرور وي د کمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانا دوست به تل ښیګڼې درته ښایې
نادان دوست به دې اخته کړي په جنجال

افغاني د دوست په نقد کې خپه ندی
خــو زوریږي تل د زړونو په ملال

--------------------------------------

۱۲ - ۱۱ - ۲۰۱۰ م. کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خدای حکمت دی

د وطـن ښکلـې هـوا ښه طبیعت دی
په وطن کې اوسیدل د خدای نعمت دی

هره سیمه هــره خوا ښکلې درې دي
مورې ته پاتې ترینه ښکلې خاطرې دي

اوسیدلو هرطرف ښکلو ځایو کې
دوطن ښایسته باندېوا اوسردرو کې

یو ورځ د ننګرهار په لور مونیت شو
دیودوست دښادۍ رسم یې علت شو

محمود خان پله کې تم ځای وه دبسونو
ور روان وه ننګرهار تـه پـه لسګونو

ما اودوست مې په لمړي سیټ کې دبس
موږ تــروان تــر ځنګه کیناستو خلص

چې روان موږ په مقصد دننګرهارشوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ستايلو او قصو د هغه ښار شوو

يو ګــړی لا تيره نــه وه د زمـــان
د ماهيپر ها چړا يي شـــو له عيان

ډيـــره ښکلـــې منظـره د مـــاهيپر
داوبـو هغه ابشار شـــو پـــه نظـــر

يو سپين ګيري وويل ښکلی طبعيت دی
دا ابشار او دا ماهيانو کې حکمت دی

ځوان ويلې: څه حکمت لري ماهيان؟
چې ابشار ته په ختو دي سرګردان

تر يو حده دې ابشارته چې رسيږي
وس يې نه رسيږي بيرته ځينې وليږي

داناپوهه دي بې ځايه وهې زور
ښه به داوي چې واپس شي کور په لور

زوړويل: دغه حکمت دی چې زې وايم
د مـــاهيانو د ختلو عـــلت ستايم

ويل: ماهيان ابشارپـه سر کې زيږدلي
هغه تيګې هغه کاڼـو کې لـوی شوي

تريووخته پورې هلته کړی ژوند دی
خپل روز ګارځني اخستی پوره خوند دی

بيا کوم وخت چې اوريدلي بارانونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـدې سیمه کـې راغـلي سیلابـونه

دوی بې لاندې د ابشاره غورځـولي
بس همدلته په همدې ځای کې لوی شوي

اوس چې لږ څه د طاقت او لږ د ځان دي
د خپل دزیږنده ځایو نو په ارمان دي

هر پرواز کې په دې هیله او آرزو دي
په امید د ځوانۍ سیمو په لیدو دي

په خپل زور او په قوت ورپوته کیږي
هاکم زوره ماهیان بیرته ترې راولیږي

ددوی صرف هدف لیدل د خپل مالت دی
پدې فکرچې به وران که سلامت دی

دا علت دی چې مالت په هر چاګران دی
پرې خوشاله دی غریب یا چیرې خان دی

پدې راز اوس هم هغه خلک پوهیږي
چې د خپل وطن نه لرې کې اوسیږي

وطن ګران دی تر هر څه وطن عزت دی
په مالت کې اوسیدل د خدای نعمت دی

-------------------------------------
۲۰۱۱ - ۲ - ۲۵ م.کال

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د شاعر په هکله



ښاغلی سمیع الدین افغاني داروانښاد مولوی محمد سعید (سعید افغاني) ځوی د مرحوم مولوي عبدالمجید لمسی په کال (۱۳۳۳) ه ش کې د لغمان ولایت د عمرزیو د دخیراباد په کلي کې زیږیدلی دی. لمړنی زده کړې یې دلغمان ولایت دحیدرخانیو په دهاتي ښوونځی ، د مهترالمک ابتدایه ښوونځی اودروښان په لیسه کې سرته رسولي

او پر کال (۱۳۵۹) کی د لوړو اومسلکي زده کړو د ترلاسه کولو په مقصد بهرته واستول شو . اوپر کال (۱۳۷۴) کې د کورنیو چارو په وزارت کې د دګروالی تر رتبې رسیدلی دی.

ښاغلی سمیع الدین افغاني لیکوال اوډېرګټو شاعر دی چې دوه شعري مجموعې یې: (د وطن یادونه اوپردیس خیالونه ) تر سر لیکونو دچاپه راوتلي ،ډیره برخه لیکنې او شعرونه یې د وطن په مجلو اوجرایدو کې خپاره شوی دی اوهمدا رنګه ډیر شعرونه یې

دوطن دوتلو شاعرانو اولیکوالانو په علمي سیمینارونو او مشاعرو کې دکلمه او یو شمر نور یې د وطن دخوږ ژبو سندرغاړو په خوږو اوازونو کې کمپوز شویدي لکه ښنجاره ماما ،پل دې بختور شه ، همت ، افغان یم ، دا افغانستان دی ،یاره ستاپه

انتګو کې اوډیر نور چې زموږ د هیوا دوالو د توجه ور ګرځیدلي دي سمیع الدین افغاني متاهل اود پنځو اولادونو پلار دی. د افغاني صیب لیکل شوی

اثار: د وطن یادونه ، د خاپوړو کلې، بازګشت، پردیس خیالونه د شین خالی ناول چې دلندو کیسو په ډول هم نشر ته رسیدلي دي اوداغلي ژرونه دا شعري ټولګه

( دحق دلاری فرهنګي ټولنه . جرمني )

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**